# اوسامه مړ شو، نو؟

دا چې څنګه د سعودي عربستان له یوې شتمنې کورنۍ او د پوهنتون یو زده کړي څخه د نړۍ په کچه، لوي اتل! (Hero) جوړیږي، کومه هېښنده خبره به نه وي، خو دا چې دی بیا چېري او د چا په مرسته خپله اتلولي اخلي؟ او له خپل هېواد څخه شړل ( سعودي عربستان ته د ننوتلو اجازه نه ورکول) کیږي. سوال دا دی چې: ولې هغه له خپل ټاټوبي، جهاد نه پیلوي؟ په کوم ځای کې چې هم امریکایی ځواکونه او هوایي اډې شتون لري. او یا هم هلته په خپل ګاونډ کې د فلسطین او اسرائیلو په جګړه کې برخه نه اخلي، یا په کشمیر او چیچنیا کې؟ بله خبره دا ده چې د روسانو سره په جګړه کې خو د امریکا لوي لاس لرل کومه پټه خبره نه ده او بیا د اسامه په دي جګړه کي لوی لاس لرل هم دا مانا نه لري چې اوسامه به له هغه مهاله داسې یو امریکایي ضد دریځ درلود. اوس سوال دا دی چې څنګه د یوه مورچل کسان بیا په خپلو کې سره اړم شول او د اتلولۍ پر ځاي د نړۍپه کچه ورځخه تروریست جوړیږي؟ ډېره د غور خبره ده.

او بیا د دغه تروریست د وژلو لپاره امریکا په کلونو جنګیږي او د پنتاګون د شمېرنې له مخې نږدې ۱۲۸۰ میلارده ډالر لګښت ورباندی کوي، او همدا شان د زرګونو افغانانو د مړینې لامل ګرځي، او نږدې ۱۰ کاله وروسته یی په افغانستان کې نه، بلکې د پاکستان په پلازمینه کې وژني! اوس سوال دادی چې د داسې کس مړینه به د افغانستان په جګړه څه اغیز ولري؟ د داسې سوالونو ځوابول به سره له دې چې ګرانه وي. خو د هر چا خپله شننه، اندنه او په اوسني حالاتو باندی رڼا اچونه، خپل حق دی.




http://icasualties.org

له پورتني ستاتیستیک څخه ښکاري چې د بهرنیو ځواکونو د مړینې شمېره له پیله ( ۲۰۰۱ ز) راپدېخوا څومره ډېره شوې! دا یواځې او یواځې د طالبانو په غښتلي کیدو او د بهرنیو ځواکو په ظلم او تیري

دلالت کوي. پدې کې یواځې په ۲۰۰۱ کال کې دوژل شوو امریکایانو شمېره ۱۲ کسان ول ، خو په ۲۰۱۰ کال کې یی نږدې ۱۵۶۷ کسه ووژل شول.

امریکا د سوېلي ویتنام سره د پوځ په جوړونه کې همدا شان مرسته وکړه، چی شمېره یې نږدې پنځه لکه پوځیان او ۲ میلیونه ملیشه ول، خو داسې لوی ځواک په یو څو میاشتو کې له منځه ولاړ او یواځنی لامل یی دا وو چي له هغوی سره د عامو خلکو یووالي نه وو. یانې د پوځ جوړونې بهیر په تعداد او روزنې نه، بلکي د خلکو دمرستې په ملاتړ سره بشپړیږي.

که امریکا او له دوی سره په جګړه کې ښکېلې غاړې په رښتیا سره وغواړي چې دافغانستان او یا د تروریزم په وړاندې خپله جګړه وګټي ، نو دوي باید د هغو هیوادونو چې په جنګ کې ښکیل دي، کلتورونه،دودونه او د عامو وګړو د پوهي کچه په پام کې ونیسي، او د جګړې یوه داسې ستراتیژي ورته جوړه کړي تر څو د عامو خلکو زړونه خپل کړي او په دې توګه به د نورو دښمنانو د پیدا کو لوڅه ونیسي. مګر متاسفانه دافغانستان او عراق په جګړه کې دي عناصرو ته هیڅ پاملرنه نه ده شوي او د غه جګړو او ظلمونو له اسامه څخه په زرګونو نور دښمنان زیږولي او د امریکایي نژادو لپاره به د عمر دښمنان وي.

د اوسامه مړینه به د هر چا لپاره ځانګړې مانا ولري: د امریکا سیاستوالو لپاره ښه سیاست کول او لاس ته راوړنه، د امریکایي عسکرو لپاره ښه دنده سر ته رسونه، د تروریزم سره په جګړه کې د پاکستان د صداقت ! ښوونه او د امریکا او نورو ځواکمنو هېوادونو سره د ښو اړیکو ساتنه. او د طالبانو لپاره که د القاعده مشر مړینه، لویه تشه ده خو د ده د مړیني په تبلیغ سره چې د دوی په خبره ګویا یو «مجاهد او امریکادوښمنه، اتل شهید شو»، لا ډیر نور په زرګونو خلك دې جګړې ته راوبولي. د افغانستان اوسني حکومت خو لږ تر لږه دا ګټه وکړه چی د خپروونو او رسنیو (Media ) مخ یې، د دوي د بی کفایتی له امله، چی د کندهار په زندان کې له شرمه ډکې او د خندا وړ چارې تر سره شوې، بلخوا واړولو.

دا چي واکمن ، سیاستوال، رسنۍ او همدا شان د نړۍ نور وګړي د اوسامه مړینه څنګه او څومره ارزښتمنه ګڼي، ځانته مسئله ده. خو دا چې زموږ په خوار ولس او پر دوی باندې د نور ظلم او جګړو اغیز کمیږي او که زیاتیږي بله خبر ده. اوس سوال دادی چی اوسامه بن لاډن ووژل شو، نو طالبان ختم شول ؟ پاکستان او ایران به خپلې لاس وهنې او یرغل، زما پر ټاټوبي بند کړي؟ امریکایان به نور خپل هېواد ته بیرته ولاړ شي؟ بمباري ، شپېني خپلسري عملیات به ودریږي؟ ایا زما د

هېواد واکداران به په رښتيا دخپل ولس لپاره په رښتينولۍ سره کار وکړي؟ او همداسي نور....

اسامه خو د امريکا سره دوښمني لرله او هغوی په خپلو موخو کي بريالي شول، او د هغه ځای ډکونه به هم کوم ستونزمن کار وي يا به نه وي، خوزما د ولس دوښمنان اوس هم په سرو سترګو ګرځي. مونږ خو لا اوس هم د يو کپ ډوډۍ پسي لالهانده ګرځو. زما بې لارې او مرور ورونڼه خو لا اوس هم په غرونو کې د يو بل وينو ته تږي ناست دي. زه خو لا تر اوسه هم هر چا ته اړ يم. زما د ولس د خوارۍ او بی اتفاقۍ کيسه خو لا اوږده ده . . .

خدايه ستا په لوي دربار کې به څه کم شي

که يو ځل مې دا کوږ بار په اوږه سم شي

*

اتفاق غواړم نـــــــــــور له هر څه نه پوره يم

ستا رضا بـــــه مې بيا تـــــوره شي قلم شي

هلمند شېرزاد

مالمو-سوىډن